الله تعالى ورته پرې جنت واجب کړ او يا دا چې له اور څخه يې پرې خلاصه کړه

له ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دى وايې چې: يوه غريبه ښځه زما خوا ته راغله چې خپلې دوه لونې يې له ځان سره راوستې وې، نو ما درې خرماوې ورکړې، هغې هرې يوې ته يوه يوه خرما ورکړه او دريمه خرما يې خولې ته پورته کړه چې ويې خوري، نو دوو لونو يې ترې وغوښته، نو هغې هغه خرما چې غوښتل يې خپله يې وخوري د هغوى ترمنځ ووېشله، نو زه د هغې دې عمل ته حېرانه شوم، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته مې د هغې کېسه وکړه، نو هغه وفرمايل: «الله تعالى ورته پرې جنت واجب کړ او يا دا چې له اور څخه يې پرې خلاصه کړه».

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها وايي چې يوې غريبې ښځې خپلې دوه لورګانې له ځان سره راوستې او له هغې يې سوال وکړ، نو هغې درې خرماوې ورکړې، ښځې هرې لور ته يوه خرما ورکړه او يوه يې خپلې خولې ته پورته کړه چې ويې خوري، خو لورګانو يې ترې هغه هم وغوښته چې غوښتل يې خپله يې وخوري، نو د هغوى دواړو تر منځه يې دوه نيمه کړه، عائشه رضي الله عنها د ښځې د دې حالت په ليدو حيرانه شوه او د هغې کيسه يې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وکړه، نو هغه وفرمايل: يقينا چې الله تعالى ورته په هغې خرما سره جنت واجب کړ، او يا دا چې له اور څخه يې پرې ازاده کړه.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3133